﴿ ۲۰ ﴾

# مور د تاریخ په اوږدو کي

د افغانستان په قدیمه انساني ټولنه کښي لـه هغـه وختـه چـي د قبـل التاریخ د زمانو آثار ښکاره سوي دي مور تل په احترام او درنـاوي لیـدل سوې او دا چي اوس موږ د مور د ورځي په نامه یوه خاصه ورځ نمـانځو زموږ د تاریخ د زړو عنعناتو سره ټینګي اړیکي لري.

د مور احترام په زاړه افغانستان کښي دومره ډېر و، چي پخوانو خلکو مور یوه ربه النوع منله چي د هغې مجسـمې د کنـدهار د منـدیګک او د پښتین او د شمالي ولایاتو په لرغونو آثارو کښي پیدا سوي دي.

او دوی عقیده درلوده چي دغه د خیر او برکت وسیله ده ربه النـوع د مور د شفقت او پروربښت نمایندګي کوي او مور د خیر او برکت وسـیله ده نو ځکه د نمنځني او پرستش وړ ده.

دغه د خیر او برکت ربه النوع وروسته د اناهیتا په نامه د احتـرام وړ وه او ځکه چي اوبه، او رودونه هم د انسان لپاره د ژوندانه منـابع وو نـو پخوانو آریائیانو داسي تصور کاوه چي د رودو او اوبو او کښت او کرنـي ساتونکې قوه هم دغه مور ده، چي ادیتا او اناهیتا بلله کېده، او تـر اوسـه هم د پښتو او دری (ادې یعنی مور) لـه دې ریښـې څخـه راپاتـه ده. پـه پخوانو آریایي کتابونو کښي ډیرو مشهورو ښځو او میندو نومونه راغلـي

دي چي په دوی کښي د علم او شعر او سياست خاوندانې هم وې، لکه چي مور په رګويدا کښي د څو تنو ښځو نومونه پېژنو، چي له دوی څخه د دې لرغوني کتاب سرودونه رانقل سوي دي.

په زردشتي دين کښي هم د ښځي مقام لوړ و. لکه چي ځيني وختونه به دې ته شاهي مقام هم سپارل کېدئ د زردشت مور د غدو په تاريخ کښي لوړ نوم لري او د افغانستان د لرغوني مدنيت په تشکيل کښي د زردشت د روزلو په سبب د دې مور برخه خورا لويه ده.

په دې وخت کښي چي خلك په کورنيو او خانوادو کښي سره تقسيم سول. نو د هري کورنۍ مشره يوه ادې وه چي هغه ئې (کدبانو) بلله يعنی د کورنۍ مشره او دغي مشري ادې ته ئې (زن پادشاييها) هم ويله چي لکه پادشاه داسي وه.

د زاړه افغانستان او خراسان ښځي چي د حسن او اخلاقو او ښه مورتوب په ګڼو ښکلي سوي وې په ايشيا کښي ئې خورا شهرت درلود او هغه وخت چي عربي فاتحان دلته راغلل نو دوی له دې ځايه ډيري ښځي بوتلې، چي د عربي خلفاوٌ په دربارو کښي داخلي سوې او د اکثرو عربي خلفاوٌ ميندي په دمشق او بغداد کښي دغه خراساني ميندي وې.

مثلاً مراجل د باغيسي استاد سيس لور داسي ښکلې او مهذبه ښځه وه چي هارون الرشيد په نکاح کړه او د دې خراساني مور په غېږ کښي مامون غوندي علم او مدنيت پالونکی خليفه وروزل سو. په اسلامي دوره کښي مور ډيري داسي ميندي پېژنو چي دوی په سياست، علم پالنه او د فرهنګ او مدنيت په روزنه کښي لوی برخي اخيستي دي.

مثلاً حره ختلی د امير سبکتګين لور او د سلطان محمود خور هغه با تدبيره او سياست مداره ادې وه، چي په (٤٢١ هـ) کال کله چي سلطان



محمود په غزنی کښي وفات سو، نو دې ادې ژر سلطان مسعود ته خط وليکه او دا يې تشخيص کړه چي د سلطان محمود په زامنو کښي مسعود د سلطنت وړ دئ. ابوالفضل محمد بيهقی د دې خط مضمون داسي راوړی دئ.

(و امير داند که از برادر اين کار بزرگ "سلطنت" برنيايد، و اين خاندان را دشمنان بسيار اند، و ما عورات و خزاين بصحرا افتاديم. بايد که اينکار بزودی گيرد که وليعهد پدر است. و مشغول نشود بدان ولايت که گرفته ... و اصل غزنين است و آنگاه خراسان ديگر همه فرع است. تا آنچه نوشتم نيکو انديشه کند و سخت بتعجيل بميج آمدن کند تا اين تحت ملك و ماضع نمائيم و بزودی قاصدان را باز گرداند که عمت چشم براه دارد.) (١)

د غزني ميندو تر سياست او جهانداری علاوه د علم په روزنه کښي هم غښتلی لاس درلود، (٤٢٠ هـ) په شاوخوا کښي په دغه ښار کښي يوه ادې اوسېدله چي نوم يې ريحانه د حسين لور وه، دې ادې د ابوريحان البيرونی مشهور پوهاند سره علمي روابط لرل او د دغي ښځي په غوښتنه او سپارښت ابوريحان په علم نجوم کښي خپل دري کتاب التفهيم وليکه او داسي ښکاري چي دا يو علم پروره ادې وه. (٢)

د غوريانو په کورنۍ کښي هم لويي ميندي روزلي سوي دي چي له هغو څخه يوه ماه ملکه د محمد بن سام لور وه دا ملکه په جلال الدين والدين سلطان الملکات ملقبه وه او د دې د پالني او روزني په غېږ کښي منهاج سراج غوندي عالم او مؤرخ وروزل سو، چي وروسته په دهلي کښي د هند قاضي القضات او لوی مدرس سو منهاج سراج وايي:

"و آن ملكه جهان اين ضعيف را در حجره پادشاهى خود چون فرزندان در پرورش پادشاهانه داشتى ... و در نظر مبارك او تربيت يافتى." (۳)

د هنر او آرت په پالنه كښې هم د ميندو برخه په خراسان كښې وينو، د هرات د تيموري خاندان ځينې ښځې داسې وې، چې مدارس او معابد به ئې جوړول د مشهد د حضرت امام علي بن موسى رضا (رض) د مزار يوه برخه د گوهر شاد (د هرات ملكې) په امر او مصرف جوړه سوې ده، چې يقيناً د بنا او تزئين او رصالت روبه د خراساني هنر يو شهكار دئ.

د ملي مشرانو په روزنه كښې هم د افغاني مور سرې پروره لاس دومره كار كړئ دئ چې دلته زه يوازې د څو تنو مشهورو ميندو برخه په څو واقعو كښې يادوم :

زموږ د وطن په تاريخ كښې حاجي ميرويس خان هوتك د آزادۍ د لارې يو ملي قايد بلل كيږي.

ميرويس په كندهار كښې د پښتنو د ملي حكومت بنياد كښېښود د پردو د غلامۍ ځنځيرونه ئې وشلول او اته كاله ئې په ملي توگه د خپل قوم رهنمائي وكړه، ميرويس يو ملت ساز شخصيت وُ د ده فكر دا وُ چې ملت جوړ كړي.

د ميرويس د شخصيت په جوړولو كښې د ده (مور نازو انا) لويه برخه درلوده، دې خپل زوى په داسې ډول وروزه چې د لويو كارو د انجام لپاره تيار سي دې خپل زوى ته دا خبره ورښوولې وه چې په ملي ژوندانه كښې لوي كار كوم دئ، او څنگه بليد چې دى خپل قوم د پردو له جوغه څخه آزاد كاندي.

دا قصه د پټې خزانې مؤلف محمد هوتك داسې ليكلې ده :



(حاجي ميرويس خان چې وزيږېد مور ئې په ديانت او عبادت سره لوى كاوه او هر كله به ئې ده ته نصيحت كا چې زويه ! ستا په مخكښې هم دي لوى كارونه، نو چې لوى سې د خداى عبادت او د خلكو خدمت كړه ته خداى پيدا كړئ يې د دې لپاره چې لوى كارونه تر سره كړې او خلق الله په خدمت ستا آرام وكا." (۴)

وگورئ چې يوه افغانه مور څنگه د خپل زوى په زړه كښې د خپل ملي تلقين اثر پرېږدي، كله چې ميرويس خان د خپل ملت سر سو ده د خپل مور هغه وصيت نه وُ هېر كړئ او محمد هوتك ليكي :

(حاجي ميرويس عليين مكان به هر وخت ويل : چې كه زما مور ماته د لويو كارو وصيت وكا زه بايد هسې كارونه وكړم.) چې په ۱۱۱۹ كال هجري ئې قوم د ظالمانو له ظلمه وژغوره نو ئې سجده د شكر وكړه او وې ويل :

"خدايه ! دا هغه كار وُ چې ماته مور سپارلى وُ، او وصيت ئې كړئ وُ دا خو ستا د عبادو او بندگانو خدمت و چې ما تر سره كه." (۵)

نازو انا د سلطان ملخى توخى لور وه، چې په ۱۰۶۱ ه كال زېږېدلې وه دا مېرمن لكه چې يوه سرې پروره ښځه وه د پښتو شاعره او عالمه هم وه. او كله چې موږ د خپل ملت د آزادۍ تاريخ گورو نو د دې مېرمنې ادې كارنامه هيڅكله نه سو هېرولاى.

زموږ په تاريخ كښې يوه بله مور چې ننگيالى زوى ئې پخپل غېږ كښې روزلى دئ (زرغونه انا) د لوى احمدشاه بابا مور ده.

زرغونه هم يوه سرې پالونكې مور وه، دې احمدشاه غوندې زوى خپل ملت ته وروزه چې د اوسني افغانستان مؤسس دئ. زرغونې د احمدشاه لاربنوونه او پالنه په داسې ډول كړې وه چې دى د دومره لوى

همت او عالی فکر خاوند سو چې نه يوازې افغانستان بيا جوړ کړي، بلکې ده د پښتنو زوړ تاريخ په هندوستان کښې هم تجديد کړ، او يوه لويه امپراتوري ئې په آسيا کښې جوړه کړه.

کله چې احمدشاه د کندهار اوسنی ښار د خپل پايتخت په ډول جوړاوه، او پر دې ښار باندې ئې يو محکمه کلا راوګرځوله او د دفاع لپاره ئې سنګرونه او برجونه هلته جوړول.

زرغونې خپل زوی ته و ويل :

"ښار جوړ که ! مګر دلته د ځان لپاره سنګر مه جوړوه ! دنيا پراخه ده، د پښتنو پاچهي تر بنګاله وه ! ته بايد جهان د خپل عدل او احسان په رڼا روښانه کړې، نه چې دلته د کندهار د کلا په مورچل کښې ځان وساتې !"

د زرغونې دې خبرې احمدشاه بابا دومره متاثره کړ، چې د افغاني زاړه عظمت د تجديد په فکر کښې ولوېد، او په دې لاره کښې بريالی هم سو، او داسې ئې و ويل :

چې د هند د ملکو فتحه مې روزي سوه
نور ايران لره په توغ په نـــــغاره ځم

(احمدشاه بابا)

کله چې احمدشاهي لوی مملکت د ده د لمسو په وخت کښې ضعيف سو او له هرې خوا خطرونه پرې راغلل د يوه لوی اختر په ورځ د هلمند د نادعلي په محکمه کلا کښې تقريباً شل تنه تکړه ځوانان سره راغونډ وه. د دوی مور "لو ادې" نومېده، او دې مور داسې غښتلې او تکړه زلمي روزلي وه. لکه وزير فتح خان او امير دوست محمد خان دا بارکزي ورونه د مملکت خطرناك حال ته ملتفت وه. دوی سلا سره کوله چې څه وکړو؟



لو ادې راغله زامنو ته يې و ويل : (له کشميره تر هراته دا لوی مملکت ستاسې همت ته ګوري که ئې بل څوك نه سې ساتلای ! تاسې لاړ سئ او دا مملکت وساتئ.) د انګريزانو او افغانانو په لومړي جنګ کښې په ۱۷۳۹ م د سردار پاينده محمدخان يوه لور چې حليمه نومېده او د خپل زوی په نامه (د مدد خان مور) مشهوره وه.

داسې يو عالي همته مېرمن وه چې قرآن په تخرګ کښې کور په کور به ګرځېده او خلك به ئې د فرنګي مقابلې ته تشويقول.

موهن لال ليکي : چې دا مېرمن موږ ډېره تعقيب کړه مګر په لاس رانغله.

دا لله سرای خواجه ښخه رهي سوه کور په کور په ټول کوهستان کښې وګرځېده او ځوانان ئې د جنګ ميدان ته را استول او په دغه ډول د تګاو، نجراب لخوا لغمان ته ولاړه او ټول خلك يې جهاد ته تيار کړل.(۶)

دا حليمه د مددخان مور د امير دوست محمد خان خور وه چې په ۱۲۸۲ ه کال په لغمان کښې وفات سوه، قبر يې د مهترلام په هديره کښې دئ. او دا هغه افغانه مور ده چې په يوه سر د انګريزانو په مخالفت کښې ولاړه او غازيان يې جنګ ته را استول.

په دې ډول زموږ په تاريخ کښې داسې ډېرې ميندې سته چې د احترام او يادولو او نمنځنې وړ دي. او اوس چې موږ د مور ورځ نمانځو د هغو تيرو نامورو ميندو نومونه هم نه سو هېرولای. (۷)

## لمن ليکونه


۱. تاريخ بيهقي صفحه ۱۳.

۲. کتاب التفهيم ص ۱

۳. طبقات ناصری ۲، ۳۱۹

۴. پټه خزانه ۱۷۸ مخ

۵. پټه خزانه ۲۷۸

۶. د امير دوست محمد خان ژوند

۷. اردو مجله، ۱۳۵۰ ل کال، دريمه گڼه، ۴۱ _ ۴۳ مخونه.